# دا هم افغان بیرغ

## ښکلې ترانې





پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

نظام الله هدف

# دا د هر افغان بیرغ

ښکلې ترانې


پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون


شاعر: نظام الله هدف

بسم الله الرحمن الرحیم


## کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | دا د هر افغان بیرغ |
| شاعر | : | نظام الله هدف |
| کمپوز جارې | : | د خالد(رض) خصوصي ښوونځي اداره - ننګرهار |
| ډیزاین جارې | : | د کتاب رسونې فرهنګي - خدماتي ټولنه |
| چاپ شمېر | : | ۱۰۰۰ |
| چاپ کال | : | ۱۳۹۷لمریز / 2019 م |
| د خپرونو لړ | : | (٤٤٣) |

## خپرندوی

## ګودر کتاب خپرنځی - ننګرهار

ګـــودر کتاب او قرطاسیه پلورنځی: لاندېنـــی پوړ، اسحاقزی مارکېټ، بزازی خلورلارې - جــلال اباد
۰۷۸۲۵۰۰۹۱۶ / ۰۷۸۹٤۷٤۷۳۰ / ۰۷۹۷۵۰۰۵۰۶
meenasadiqs@gmail.com



د بیا چاپ ټول حقوق له خپرنځي سره خوندي دي.

# ډالۍ

**هغــوی ته!**

**چې خبل بچي د معارف او پوهې تر سیوري لاندې روزي.**

**ن. هدف**

دا کتاب( دا د هر افغان بیرغ ) د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو ورونو او خویندو ته دي ډالۍ وي ...!

او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ ...!

## دا کتاب...!

هر هېواد، هر قام او د هرې ژبې ویونکي غواړي، چې خپلې مورنۍ ژبې ته پرمختګ ورکړي، ترڅو خپله ژبه د نړۍ د پرمختللو ژبو په کتار کې ودروي. چې ددې کار په کولو یو شمېر هېوادونه او قومونه بریالي شوي هم دي.

خینو یې خپله مورنۍ ژبه د نړیوالو ژبو په کتار کې شامله کړې ده او خینو نورو بیا نړیوالو ته په رسمي ډول پېژندلې ده.

د نېکه مرغه چې زمونږ مورنۍ ژبه پښتو هم د نړۍ د رسمي ژبو له ډلې یوه ژبه ده، خو د بده مرغه د نړۍ د پرمختللو ژبو په څېر ورته پوره پاملرنه نه ده شوې.

دا د نړیوالو او نورو قومونو ملامتیا نه ده، دا زمونږ د پښتنو ورونو خپله ګرمتیا او نیمګړتیا ده، چې خپلې ژبې ته یې په هاغه کچه چې ورته اړتیا ده، خدمت نه دی کړی.

د نورو ټولو خبرو څخه تېرېږو، خو یوازې دومره وایو چې بیا هم زمونږ په پښتنه ټولنه کې یو شمېر داسې نباغلي لیکوالان او شاعران شته، چې د خپلې شاعرۍ او لیکوالۍ له مخې یې درنو هېوادوالو ته د کتاب او نورو په بڼه د پښتو ادبیاتو، شاعرۍ او نورو علمونو کتابونه وړاندې کړي او د نړۍ ګوټ ګوټ ته یې رسولي دي.

ما هم په خپل وار سره د پښتو ژبې د ترانو او نظمونو یو کوچنی کتاب چې نوم یې دی (دا د هر افغان بیرغ) وړاندې کړ، څو ماشومان، خوانان او نور وکولی شي له دې څخه ګټه پورته کړي.

په دې کتاب کې د هغو ترانو او نظمونو د راوړلو څخه ډډه شوې ده، چې د جنګ جګړو او کورنۍ دښمنیو سره تړاو لري او تر ډېره هڅه شوې ده، چې هغه کلمې وکارول شي، چې د هېواد د ابادۍ، سوکالۍ،

سولې، ارامۍ او د پردي دښمن څخه د هېواد ساتلو مينه او جذبه د لوستونکو په زړونو کې پيدا کړي.

زه له ډېر کوچنيوالي څخه شاعري کوم، د خپل عمر په دې کوچني پړاو کې مې تل هڅه کړې، چې داسې شعرونه او نظمونه هېوادوالو ته وړاندې کړم، چې په هغې سره د دوی خپل منځي دښمنی او کرکې پای ته ورسېږي او په راتلونکي کې د ارام، پرمختللي او خوشاله ژوند څښتنان شي.

د ګودر کتاب خپرنځي له ټولو همکارانو او په تېره د تکړه شاعر او ليکوال صادق الله صادق څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې زما د دې کتاب د چاپ چارو ته يې غاړه کېښوده او ستاسې ترلاسونو يې دررسولو.

په ټوله مينه

ستاسې کشر

نظام الله هدف

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه
آریان پښتو کتابتون

## هدف څوک دی؟

نظام الله هدف د ښاغلي حضرت ګلاب زوی، چې د کوزې پښتونخوا د چيکدرې په سيمه کې زېږېدلی، خو اصلاً د کونړ ولايت د چپې درې ولسوالۍ اوسېدونکی دی.

لومړنۍ او دويمې زده کړې يې د حضرت سلمان فارسي(رض) په خصوصي عالي ښوونځي کې سرته رسولي دي، د ښوونځي ترڅنګ يې د انګليسي او کمپيوټر زده کړې هم کړې دي، د خطاطۍ او رسامۍ په برخه کې تر کوچنيوالي څخه تراوسه کار کړی دی. ددې سره سره يې د شاعرۍ او ليکوالۍ په ډګر کې هېوادوالو ته خدمت کړی، ډېری شعرونه او ليکنې يې په بېلابېلو کورنيو او بهرنيو ورځپاڼو او مجلو کې د چاپ په ګاڼه پسولل شوي.

له ښوونځي وروسته يې د انجينرۍ په برخه کې زده کړې کړي، او اوسمهال د ساينس په څانګه کې د لوړو زده کړو په ترلاسه کولو بوخت دی.

په انګليسي ژبه کې د يو څه تجربې د درلودلو او د پښتو ژبې سره د يې کچې مينې د ساتلو له امله يې د انګليسي او انګليسي-پښتو تر ۲۰ زيات کتابونه ليکلي دي، چې ۱۶ کتابونه يې چاپ شوي دي.

ښاغلي هدف په يو شمېر خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو ادارو کې دندې ترسره کړي، چې اوسمهال هم د خالد (رض) خصوصي ښوونځي د مديريت چارې ورپه غاړه دي او ددې ټولنې د بچو په روزنه بوخت دی.

دی له خپلې مورنۍ پښتو ژبې سره سره په انګليسي، هندي، اردو او فارسي ژبو هم برلاسی دی او روانې خبرې پرې کولی شي او ددې ترڅنګ تر يو حده په روسي، عربي او پنجابي ژبو هم پوهېږي.

دی لا ځوان دی او ډېر هڅاند دی، زه ورته د ژوند په ټولو چارو کې د بريا لاسونه لپه کوم او هيله لرم چې د خپلې ژبې او ټولنې په خدمت کې لا نور ستر کارونه ترسره کړي.

په مينه او درنښت

صادق الله صادق

د ګودر ادبي بنډار مشر

## کنډر کنډر وطن نه ګلستان به جوړوو

کنډر کنډر وطن نه ګلستـــــان به جوړوو
له خیره یو ځل بیا افغانستـــان به جوړوو
مشهد نه تر ډیلي لـوی خراسـان به جوړوو
له خیره یو ځل بیـا افغانستـــان به جوړوو

ودان به وي ابــــــاد به وي
دا ټـول عمـــــر ازاد به وي
زمــــونږ په دعا ښـــــاد به وي
یو تاج ورنه د سر د ټول جهان به جوړوو
له خیره یو ځل بیا افغانستــــان به جوړوو

شنو بوټو شنو سیندونو رنګ
د تــــورو تورو غرونو رنــګ
زمونږ د زړو د وینـــو رنـګ
په دې د خپل هېواد نوم او نښان به جــوړوو
له خیره یو ځل بیا افغانستــــان به جوړوو



آریان پښتو کتابتون



مونږ تاسره وعده کــــــوو
ای خاورې ستا پرده کـــــوو
یوه کلکه اراده کـــــوو
پــــه زړونو کې ټول ورونه دا ارمان به جوړوو
له خیره یو ځل بیا افغانستــــان به جوړوو

کابـل زمونږ پکتیا زمونـــــږ
اټــک زمونږ تیرا زمونـــــږ
دا ټوله پښتونخوا زمونـــــږ
د ځان نه هر افغان لوی احمد خان به جوړوو
له خیره یو ځل بیا افغانستــــان به جوړوو

ورخو د ترقی په لــــور
د علم روښنایی په لــــور
د سائینس ټکنالوجی په لور
هدفه د سیالیو لوی میدان به جـــــوړوو
له خیره یو ځل بیا افغانستــــان به جوړوو

**مونږه په خپل وطن قربان بچي يو**

شکر دی ټول مسلمانـــان بچي يو
مونږه په خپل وطن قربان بچي يو

ښکارېږي دا خاوره په مونږه ښکلـــې
د دې وطن ګلان ګــــلان بچي يو
مونږه په خپل وطن قربان بچي يو

اغيـــاره خان وژنو، خـــو تا هم وژنو
مونږ د ميرويس او احمدخان بچي يو
مونږه په خپل وطن قربان بچي يو



t.me/AryanPashtoLibrary



مونږ يو د توري او قلم خاونـــــدان
د نوميالي لوی خوشال خان بچي يو
مونږه په خپل وطن قربان بچي يو

مونږه سرونه ږدو د خدای په رضـــا
د خدای په لار کې شهيدان بچي يـو
مونږه په خپل وطن قربان بچي يو

کوو به هر وختې خبرې د ننـــګ
مونږ پښتانه او افغانــــان بچي يو
مونږه په خپل وطن قربان بچي يو

دا ده د فخر او د وياړ خبـــــره
د ننګ نه ډک او اتـــلان بچي يو
مونږه په خپل وطن قربان بچي يو

مونږ سره دی د خدای مدد ملـګری
مونږ ایماندار او صادقـــان بچـــي یو
مونږه په خپل وطن قربان بچي یو

په خپلو وینو مو ساتلی وطــــــــن
د خپلې خاورې خادمـــان بچي یو
مونږه په خپل وطن قربان بچي یو

هر چا زمونږه نارینتوب ستایلــــی
هدفه مونږه تکړه نـــران بچي یو
مونږه په خپل وطن قربان بچي یو



آریان پښتو کتابتون



## تل ویشتل شوی په ګولو یمه زه

تل ویشتل شوی په ګولو یمه زه
شــل نن په لاسو او پښو یمـه زه

زه یم د ننګ او د غیـرت خزانه
قوي ټاټـــــوبی د پښتو یمه زه
شل نن په لاسو او پښو یمه زه

لرم په دې نړۍ کې ډېر غلیمـــان
دوی سره نښتی په پېـــړو یمه زه
شل نن په لاسو او پښو یمه زه

زما ساتل په هر افغان دي فرض
نامـــوس د پیغلو د سرو یمه زه
شل نـــن په لاسو او پښو یمـه زه

ما بیا خوشاله کړئ ما وخـندوئ
سترې ستومان په ژړېدو یمه زه
شل نن په لاسو او پښو یمـه زه

د یو اهو غوندې رفتار نه لــرم
روان په هره لاره ورو یــمه زه
شل نن په لاسو او پښو یمه زه

غلیم مې کړي د ورانیدلو هـــڅه
دوی مهجور کـــړی د بچو یمه زه
شل نن په لاسو او پښو یمـه زه

تر څو به یم داسې مظلوم او ملال
ډېر ارماني د عیش لیدو یمـــه زه
شل نن په لاسو او پښو یمـــه زه

زه مېړني او نر ځوانان خوښووم
لرغونـــی کور د ننگیالو یمـــه زه
شل نن په لاسو او پښو یمـــه زه





خېژي د خولې مې سوی سوی کوکار
سوي اغیارو په اورو یمـــــــــه زه
شل نن په لاسو او پښو یمـــه زه

راسره مه کـــوئ نور غـــدر بچو
گنې نزدې د مړ کېدو یمـــــه زه
شل نن په لاسو او پښو یمـــه زه

هدفه جوړ کړئ گلستـان له مانه
خړ پړ په خاورو او ایـــرو یمه زه
شل نن په لاسو او پښو یمـــه زه

## پښتنو پاڅئ

پښتنو پاڅئ يو اواز د پيوستون اوچت كــــــــړئ
په ټول هېواد باندې بيرغ د خپل قانون اوچت كـــړئ
پښتنو پاڅئ يو اواز د پيوستون اوچت كــــــــړئ

سرې سترګې ګرځئ چاته مه ګورئ په ټيټو سترګــــــو
لكه احمد غونډې نښان د هر پښتون اوچت كـــــړئ
پښتنو پاڅئ يو اواز د پيوستون اوچت كــــــــړئ

پښتون كه هرځاى دى نو يو دى سره نه به شي بـــيل
نور د خپل خانه دغه بد نوم د بيلتون اوچت كـــړئ
پښتنو پاڅئ يو اواز د پيوستون اوچت كــــــــړئ





يو مو رواج يوه مو ژبه يو مو دين دى ورونــــــــو
د خپل وطن نه دا غربت او دا شګون اوچت كـــړئ
پښتنو پاڅئ يو اواز د پيوستون اوچت كــــــــړئ

پام كوئ دې خاوره كې كېنږدي قدم درنه څــــــوک
او كــــه څوک وي هم د هنوى ورنه زنګون اوچت كړئ
پښتنو پاڅئ يو اواز د پيوستون اوچت كــــــــړئ

ګورئ چې هيڅا ته ورنه كړئ سپين د سرو په بــــدل
شكر په خپله مړئ اوباسئ ژوندون اوچت كـــړئ
پښتنو پاڅئ يو اواز د پيوستون اوچت كــــــــړئ

هر يو غليم دى راپسې پرېږدي مو نه په قــــــلار
ورلـــه يـــوه سخته ماته وركړئ يو غبرګون اوچت كړئ
پښتنو پاڅئ يو اواز د پيوستون اوچت كــــــــړئ

مېړني مري خو پاتې كېږي يې ژوندي نومــــــونه
خپلو دماغو كې خيال هغه د پرون اوچت كـــړئ
پښتنو پاڅئ يو اواز د پيوستون اوچت كــــــــړئ

بیرته د خپل اصلي ټاټوبي اصلي برید وتـــــاکئ
ټولې دنیا ته د خپل حق اصلي غوښتون اوچت کــړئ
پښتنو پاځئ یو اواز د پیوستون اوچت کـــــړئ

د دنیا ګوټ ګوټ نه کړئ ټول خواره واره افغـــانان
کړئ یې یو موټی اهنګ دغه د لټون اوچت کـــړئ
حرکت وکړئ نن خو ده د پرمختګ زمــــانه
وایې هدف خانونه تل په صباؤون اوچت کـــړئ





**ښایسته کابل مو په ایرو بدل شو**

ګل او ګلاب مو په ازغو بــــدل شو
پښتو دستور مو په اردو بــــدل شو

د یو اغیار او بل اغیار دلاســــــه
زمونږ هېواد په کنډوالو بدل شـــــو

باغ او ځنګل مو بې ګناه شو قتــــل
ښېراز چمن مو په دښتو بدل شــــو

پښتونستان رانه پنجاب وخــــوړو
ښایسته کابل مو په ایرو بدل شـــو

دلته یې ولګوو اور د بیلتـــــــون
یو بل ته نیت د پښتنو بدل شــــو

مـــونږ خپله خاوره اصلي پولــه غواړو
دا غږ زمونږه په نخرو بــــــدل شو

دلته د علم په ځای جهل شو خـــــور
روښانه کور مو په تيارو بدل شـــــو

زمونږ راووتو سيلاب د ويـــــــــنو
زمونږ مسکن په هديرو بــــــدل شو

هدفه دلته شول ظلمونـــــــــه رواج
دلته مو امن په جګړو بـــــــدل شـــو





## خپلې خاورې خپل بيرغ ته په سلام يو

سره يـــو يو مونږ غليم ته که هر قـام يو
خپلې خاورې خپل بيرغ ته په سلام يو

يو مو واک دی، يوه مو دود دی، يوه مو ژبه، يوه مو خـاوره
يو مو درد دی ، يوه مو دين دی، يو مو غږ دی، يوه مو لاره

مونږ ودان به په دې خاوره کې مدام يو
خپلې خاورې خپل بيرغ ته په ســلام يو
غزنوي و، ابدالي و، ميرويس خان و، خوشحال خــان و
ننګيالی و، توريالی و، نر افغان و او نر خـــــــوان و

مونږ مین په خپل هېواد او خپل اسلام یو
خپلې خاورې خپل بیرغ ته په ســـلام یو

ککرۍ ترې بیلوو مونږ ځوک چې راشي دې وطن ته
مونږه ماتې ده ورکړې په دې کور کې هر دښمـــن ته

مونږ هدفه یادېدونکي په ښه نـــــام یو
خپلې خاورې خپل بیرغ ته په ســـلام یو

پېښور دی، که خیبر دی، که اټک دی، که نوښار دی
که کابل دی، که هرات دی، کندهار دی، که مزار دی





## یا الله قوي، قوي زما ایمان کړې

ما د شیطان د وسوسو نه په امــــــان کړې
یا الله قوي، قوي زما ایمـــــــان کړې

خدایه گناه، گناه راخنې کـــــېږي
لویه خطا، خطا راخنې کـــــېږي
زړه گناهگار مې نور په ښه لاره روان کـــړې
یا الله قوي، قوي زما ایمـــــان کړې

یمه په فکر، فکر د قیــــامت کـــې
ژوند به کوم، کوم په صداقت کـــې
خدایه رښتیا او خوندور مې هر بیان کـــړې
یا الله قوي، قوي زما ایمـــــان کړې

شم په ژړا، ژړا او ډېر خفه شم
خدايه چې تا، تاته په سجده شم
ته خو د مخې نه مې لرې ټول خفگان کړې
يا الله قوي، قوي زما ايمان کړې

دين مې اسلام، اسلام دی مسلمان يم
گوره پښتون، پښتون يمه افغان يم
هدف هميش وايي ما پاتې مسلمان کړې
يا الله قوي، قوي زما ايمان کړې





## ملي سرود

کور مو دا افغانستان دی
تور، سور، شين ددې نښان دی

دا پر مونږه باندې گران دی
دا زمونږ د زړه درمان دی
مونږ ته بر په ټول جهان دی
د زړه سر د هر افغان دی
زمونږ ژوند زمونږ ارمان دی
زمونږ سوچ زمونږ ايمان دی
زمونږ خان زموږ خگر دی
غږ مو الله اکبر دی

دې هېواد کې افغانان دي
پښتانه دي تاجکان دي
ازبکان دي، ترکمنان دي
هزاره، نورستانيان دي

قزلباش او بلوڅان دي
هم عرب هم ګوجران دي
ټول په يو بل باندې ګران دي
ټول ددې خاورې بچيان دي
زمونږ خان باندې باور دی
غږ مو الله اکبر دی

مونږه واړه افغانان يو
مونږ په يو بل مهربان يو
مونږ يو موټی او يو خان يو
مونږ په خپل وطن قربان يو
ماشومان يو که لويان يو
که سپين ږيري که ځوانان يو
غريبان يو که خانان يو
مونږ بچي د احمد خان يو
دا هېواد مو د زړه سر دی
غږ مو الله اکبر دی





دې هېواد کې خپلواکي ده
عدالت او ترقي ده
زمونږ لاره د بري ده
زمونږ خاوره اسلامي ده
مونږ پاللې خپلولي ده
صداقت، ربښتينولي ده
اتفاق او ورورولي ده
هم يووالی هم دوستي ده
يو مو سوچ يو مو نظر دی
غږ مو الله اکبر دی

## ملي سرود ۲

زمونږ هېواد افغانستـــــان دی
د خپله خانه راته گـــران دی
زمونږه زړه زمونــږه خان دی
یو مو اواز یو مـــو نښــان دی
قـــــربان زمونږه ورنه سر دی
اواز مو الله اکبـــــــــر دی

که پښتـــــانه که تاجـــکان دي
کــــــه هزاره که ازبـــکان دي
که قزلبـــاش که بلوڅـــان دي
گـوجر ایماق که پشه یـــان دي





کـه عربـــان، نورستانیـان دي
واړه ددې هېواد بچيـــان دي
سره یو موټي او یو خــــان دي
مسلمانان دي، افغانـــــان دي
یو مو ایمان یو مو نظر دی
اواز مو الله اکــــــبر دی

دلته اختیـــــــــار او ازادي ده
دلتـــه وحـدت او وروروليِ ده
دلته نـرتوب دلته خـــواني ده
دلتـــه انصاف او ترقــــــي ده
زمونږه پاک زړه او خیگر دی
اواز مو الله اکبـــــــر دی

## په هر چمن باندې بهار راغی

پـه هـر چمن باندې بهار راغی
د گلو هر باغ ته مالیـــار راغی
د شنو توتیانو او بلبــــلو اواز
د هر چمن نه په سهـــار راغی
د زیړ نرگس او د لالـــه د گلـه
د سیاح سترگو ته دیـدار راغی
عـــاشق سلام په معشوقې ولېږو
تازه تـــازه ورته ریبـــــار راغی
د تــــورو غرو د جگو ونو په سر
د شمال باد قلار قـــلار راغـــی
د غـــرو لمنو کې د سپینو اوبو
ښکلـــــی اواز ښکلی شرار راغی
د رگـــــو وینه په توپونو شـــوله
د هر چـا سترگو ته خمار راغی
چې د هېواد د ابادۍ شو خبــر
د هـــدف زړه ته لږ کـرار راغی





## د حق په لار باندې روان ښه یمه

د حق په لار باندې روان ښه یمـــــه
همېش رښتین او بایمان ښه یمـــه

ځان به په بل قام باندې نه یـــادووم
داسې پښتون ښه یم افغان ښه یمــه

د بل هېواد مېشته کیدل نه غواړم
مېشته په خپل افغانستان ښه یمـــه

برې او سوبه به الله راکـــــــوي
داسې مشغول په امتحان ښه یمـــه

اسلام په توله نړۍ نه ورکـــــوم
کافر دې نشم مسلمان ښه یمــــــه

جوړې به نکړمه فریب او حیـلې
داسې ساده باده انسان ښه یمــــه

د خدای د قهر او غضب ځنـې تل
داسې په ویره او لړزان ښه یمــه

ازغی او خار د خارستان ښه یمه
که ګل د باغ او ګلستان ښه یمــه

د اخرت په ورځ بری غواړمــــه
ناکام ناکام په دې جهان ښه یمـه

د خدای قدرت او فطرتونو ته زه
وایي هدف داسې حیران ښه یمه





## د وطن ترانه

ای د جنت پشانې ښکلی او شین غر وطنـــــــه
ای لر او بر وطنـــــــــــه، زما یادیـــــږې
ټول افغانـــــان په تا نازېږي سراسـر وطنــــــه
ای لر او بر وطنـــــــــــه، زما یادیـــــږې

ستا په باغونو کې طوطیــــــان چغیږي
ستا چمنونو کې ګـــــــلان غوړیږي
اوچتو غرو کـــې دې زمریان غرمبیږي
ته همېشه یې خول او تاج زمونږ د سر وطنـــــه
ای لر او بر وطنـــــــــــه، زما یادیـــــږې

دلته خیبر او کابل جان ورونه دي
پښتون تاجک او بلوڅان ورونه دي
خو ټول قومونه افغانان ورونه دي
ستا کاني بوټي ښکاري مونږه ته سره زر وطنه
ای لر او بر وطنه، زما یادیږې

مونږه د یو بله جدا ولې شو
په ټول جهان کې د خندا ولې شو
سره ورک ولې شو تبا ولې شو
نیسو په یو لاس کې قران بل کې خنجر وطنه
ای لر او بر وطنه، زما یادیږې

مونږه به تاته غلیمان نه پرېږدو
تا جوړوو مونږه دې وران نه پرېږدو
په غلامۍ کې به خپل ځان نه پرېږدو
مونږه لرو تل په یو بل باندې باور وطنه
ای لر او بر وطنه، زما یادیږې





په تاکې ننګ تاکې غیرت نغښتی
تاکې پښتو او افغانیت نغښتی
تاکې عزت او شرافت نغښتی
مونږ لوړوو ټولې نړۍ ته به ستا سر وطنه
ای لر او بر وطنه، زما یادیږې

تا سره رنګارنګ ظلمونه وشول
تا سره مکر او چلونه وشول
وطنه ستا ډېر تاوانونه وشول
څکه هدف شو ستا په مینه کې شاعر وطنه
ای لر او بر وطنه، زما یادیږې

## زه غيرتي يم د افغان بچی يم

زه غيرتي يم د افغان بچی يم
حق ته قايل يم مسلمان بچی يم

په ما ددې وطن دفاع فرض ده
د خپلې نښې ارتفاع فرض ده
ما د غيرت غبږه کې شپې کړې دي
ما د عزت غبږه کې شپې کړې دي

زه په وطن قربانوومه خپل سر
ورنه ببخي نه سپموومه خپل سر
مونږ سره ولې تل ظلمونه کيږي
چې بې گناه زمونږ قتلونه کيږي

يو بل ته ورکړئ د ورورۍ لاسونه
د يو وحدت او خوشالئ لاسونه
پروا د توپ او د طيارو مه کوئ
وېره د هيڅ قسمه گولو مه کوئ





د جېلم پورې پښتونخوا زما ده
هم سمرقند او بخارا زما ده
ماته ميرويس ماته سلطان وايي ټول
ماته پتمن او قهرمان وايي ټول

يو بل پخپله ورونو مه وژنئ نور
د غليم سوچ د غليم زړه وژنئ نور
واړه جهان په ترقۍ روان دی
زمونږ ټاټوبسی په ورانۍ روان دی

غليم په مونږ کې لمسونه کوي
زمونږ هېواد کې لاسوهنه کوي
نور د غليم په خوله دوکه چې نشئ
خپلو منځو کې په جگړه چې نشئ

علم حاصل کړئ افغانانو ورونو
وطن اباد کړئ غيرتيانو ورونو
هدف هر وروو ته نصېحت کوي تل
سوچ د يووالي او وحدت کوي تل

## ځغلو د غیرت په لار

مونږ ټول افغانان ورونه
ژوند د سړیتوب کوو
ځغلو د غیرت په لار
هر وخت نارینتوب کوو

کله به کابل ته ځو
کله به زابل ته ځو
کله به خیبر کې یو
مونږه به یو بل ته ځو
مونږه پالنګ نه لرو
مونږ په ځمکه خوب کوو
ځغلو د غیرت په لار
هر وخت نارینتوب کوو

ټول یو افغانان ورونه
یو بل باندې ګران ورونه





لر یو او بر یو مونږ
یو موټی یو خان ورونه
خیر که خپلواکي لرو
خوی به د خاکروب کوو
ځغلو د غیرت په لار
هر وخت نارینتوب کوو

دا د دیراو سوات ښایست
دا د لوی هرات ښایست
هم کونړ او بلخ کې شته
ډېر ښایست او زیات ښایست
یا د پېښور ښار کې
کوز ښار کې او بر ښار کې
ګرځو او راګرځو به
مونږ د وطن هر ښار کې
دا کمعقلتوب نه دی
دا خو هوښیارتوب کوو
ځغلو د غیرت په لار
هر وخت نارینتوب کوو

یا په ننګرهار کې ژوند
یا په کندهار کې ژوند
کله صوابی مردان
کله په نوښار کې ژوند
مونږ که ماشومان هم یو
کار د زلمیتوب کوو
څغلو د غیرت په لار
هر وخت نارینتوب کوو

شین لال بدخشان لري
شین رنګ نورستان لري
شنه غرونه کونړ کې دي
شنې درې لغمان لري
مونږ د خپل هېواد سره
مینه مینتوب کوو
څغلو د غیرت په لار
هر وخت نارینتوب کوو





ښکلی ټول هېواد زمونږ
ټول هېواد ازاد زمونږ
خدایه ته یې تل لرې
هر یو ځای اباد زمونږ

مونږ هدفه هر وخت کې
کار د هوښیارتوب کوو
څغلو د غیرت په لار
هر وخت نارینتوب کوو

## د ننگ زمری

راځئ چې خپله خاوره پاکه او صفا وساتو
د هر غلیم د تجاوز نه یې رښتیا وســـــاتو

په دې هېواد کې لوبیـــدلي یو مونږ
ډېر کړیدلي زوریـــــدلي یو مــــونږ
خو باعزته او ښـــاغــــلي یو مونـــږ

مونږ به خپل نوم د تل لپاره په دنیـا وساتو
راځئ چې خپله خاوره پاکه او صفا وساتـــو

راځئ چې خپل تاریخ ژوندی وساتو
خان په هېواد کې میړنی وســــــاتو
خان همېشه د ننگ زمری وســـــاتـــو
مونږ چې خیانت ورسره ونکړو وفا وساتــو
راځئ چې خپله خاوره پاکه او صفا وساتو





چې دې هېواد ته بهرنیــــــان رانشي
زمونږ د سر لوی دښمنـــــان رانشـــــي
چې خیانتگر او ظالمــــــــان رانشي
بیا خو زمونږه فریضه ده چې هر خوا وساتو
راځئ چې خپله خاوره پـــاکه او صفا وساتو

راځئ چې دلته ترقــــــــــي راولو
چې آرامي او سوکـــــــالي راولـــو
د وطن مینه په زړگــــــــــي راولـــو
وایي هدف ترمرگه پورې به همدا وســـــاتو
راځئ چې خپله خـــاوره پاکه او صفا وساتو

## قلم د علم د دولت نبنه ده

قلم د علم د دولـــــــت نښه ده
لکه میزان د عدالـــــــت نښه ده
دغـه په سر باندې پټکی او پکول
د هر افغان د افغانیــــــت نښه ده

لوړه زمونږ درې رنګییزه ټوټــه
ددې وطن د حریــت نښــه ده
هېواد اسلام، دستور او ژبه ورونو
زمـونږ د ټولو د عـــزت نښه ده

هر څه چې وایو نو کوو به هـغه
زمونږ هر کار د حقیــقت نښه ده
پخـپله خوار اوسېږې سترې ګرځې
دا دې ملت ته د خـــدمت نښه ده





هڅه کوه بریالی کېــــــږې به ته
زحمت ګالل خو د راحـت نښه ده
خـــوږه لهجه او روغه ناسته پاسته
د هر سړي د شــــــرافت نښه ده

قربانېدل د خپل عزت په خاطـــر
پــه هر پښتون کې د غیرت نښه ده
د ننګ وینا هدفه ستا په ژبــــه
مونږ ته د پند او نصیحت نښه ده

## ای خدایه

ای خدایه داسې عادت مه راکوې
د بدو خلکو صحبت مه راکوې
ته په رښتونې او په حقه لار کې
ماته ارام او راحت مه راکوې
حلاله یوه ټنګه قبوله مې ده
حرام میلیونه دولت مه راکوې
چې چاته بد او تاوان ورسوم
ته راته دومره جرأت مه راکوې
ماته څراغ دعلم بل وساتې
راته یو وخت جهالت مه راکوې
دا نړۍ ده په محبت ودانه
ماته په زړه کې نفرت مه راکوې
ما د رښتوني دین تابع وساتې
کفر او شرک بدعت مه راکوې





چې کاروومه یې په بد مقام کې
ته راته بیا روغ صحت مه راکوې
زما په خوله باندې رښتیا راولې
ماته د دروغو طاقت مه راکوې
زه د هغې دنیا جنت غواړمه
په دې دنیا کې جنت مه راکوې
خدایه د شرم څنې ډېر ویرېږم
مرګ راله راکړې ذلت مه راکوې
ما د نیکانو خلکو مل وشمارې
ماته بې کاره خصلت مه راکوې
وایې هدف راځنې ښه کار وکړې
د غلط کار اجازت مه راکوې

## زما ژوند دی زما زړه دی دا هېواد

زما ژوند دی زما زړه دی دا هېـــواد
وي ژوندی دې مې ښه نه دی دا هېواد
په هېواد به خان قربان کړم
ترينه جوړ به ګلستان کړم
زما خـــان زما هرڅه دی دا هېواد
زما ژوند دی زما زړه دی دا هېواد
شته اړتيا يې خوشـــالی ته
يوې لويې کاميـــــابی ته
خوشالېږي خوشال ښه دی دا هېواد
زما ژوند دی زما زړه دی دا هېـــواد
پـه جهان يې مخـــکې کوم يې
په ژړا دی خـــــــــندوم يې
بې علاجه او وږه دی دا هېواد
زما ژوند دی زما زړه دی دا هېواد
دښمنـــــــــانو راته وران کړو
پسـرلی و دوی خــــزان کړو





ژوبل ژوبل اوس په زړه دی دا هېواد
زما ژونـــد دی زما زړه دی دا هېـواد
خان بيـــــدار کړئ افغانانو
ای زمريـــــــانو او غازيانو
ستاسو ځای د ژونـدانه دی دا هېواد
زما ژوند دی زما زړه دی دا هېـــواد
دا اباد کړئ دا سمــــسور کړئ
دا مو کور دی دا مو کور کړئ
د هر سيند او د هر غره دی دا هېواد
زما ژوند دی زمـــا زړه دی دا هېـواد
سوچ ددې هر وخت هدف کړي
خـــان شامل د ننګ په صف کړي
ډېر ښيرازه ډېر ښايسته دی دا هېواد
زما ژوند دی زما زړه دی دا هـــېواد

## ژوندی افغانستان دې وي

سرلوړی او قوي په ټول جهان دې وي
ژوندی افغانستان دې وي

دی لږ دې خفـــــه کېږي نه
هیـچیرې دې ورانـــــېږي نه
لمبې دې پرې بلـــــېږي نه
منزل ددې خوشاله او اســـان دې وي
ژوندی افغانستان دې وي

مسکن زمونږ او کور زمـــونږ
د دواړو سترګو تور زمـــــونږ
هم پلار زمونږ هم مور زمونږ
مدغسې خوشـــــاله او ودان دې وي
ژوندی افغانستان دې وي





ساتو او جـــــــوړووو به یې
هر وخت خوشـــــالوو به یې
په خیال کې ګرځـــــوو به یې
الله پرې هېوادوالو مـــــهربان دې وي
ژوندی افغانستان دې وي

ښایسته ښاسته بچـــــــي لري
خوانان او هم زلمـــــــي لري
بــازان لري زمـــــــري لري
هدفه تل ترتله په تا ګـــــران دې وي
ژوندی افغانستان دې وي

## زمونږ هېواد

زمونږ هېواد به ابـــــادیږي
هر یو افغـــان ترې قربانېږي

افغانستـــــان زمونږ وطن دی
هرځای ښیرازه او ګلشن دی
واړه باغونه او چمـــــن دی
پکې سینــــــدونه ډېر بهـــېږي
سپینې چینـــې پکې خوټکېږي

خدای دې خوشاله خامخا کړي
ورته حیرانـــــه دې دنیا کړي
ربا ربا دې هره خـــــوا کړي
هیڅکله نه دې خپـــــه کېږي
ملګرو هر وخت دې خندېږي





لوړ به یې دغســـــې نښان وي
دی دې همدغســـــې ودان وي
الله دې تل پرې مـــــهربان دي
زمونږ د سترګو سترګو کېږي
زمونږ په زړونو راوړېږي

علم حاصل کړئ افـــــغانانو
جنګونه مه کوئ ځـــــوانانو
ددې هېواد خوږو بچــــــیانو
هدف په غم ورلــــه دردېږي
په وطن ډېر ډېر خپه کېږي

## دا وطن به مو اباد کړو

دا وطن به مو اباد کړو
پکې ختم به فساد کړو

خامخا کوو دا ژمنه
چې کوو به یې ساتنه
د پردو به یې ازاد کړو
دا وطن به مو اباد کړو

یو ددې وطن بچیان
کړو پوره به یې ارمان
پکې جوړ به اتحاد کړو
دا وطن به مو اباد کړو

ځنې زار مو دی بدن
ورنه جوړ به شي چمن
برابر به خپل مراد کړو
دا وطن به مو اباد کړو

همېشه به وي روښانه
شي خبر به د جهانه
راپیدا به اعتماد کړو
دا وطن به مو اباد کړو





## ښکلي هېواد ته به ځم

زر زه ټاټوبي خپل ازاد ته به ځم
ښکلي هېواد ته به ځم

ښکلی هېواد یې زما
په زیار اباد یې زما
همېشه یاد یې زما
زه خپل مراد ته به ځم
ښکلي هېواد ته به ځم

په بل هېواد کې یمه
اوس اعتماد کې یمه
په خپل مراد کې یمه
خای د مراد ته به ځم
ښکلي هېواد ته به ځم

تا په خندا غواړمه
زه دې رڼا غواړمه
ستا پرمختیا غواړمه
کور د جهاد ته به ځم
ښکلي هېواد ته به ځم

د تانه ځار به شمه
زه دې پکار به شمه
لګیا په زیار به شمه
ټاټوبي یاد ته به ځم
ښکلي هېواد ته به ځم

خدای دې خوشاله لره
اباد دې ماله لره
هم دې سوکاله لره
زه اعتماد ته به ځم
ښکلي هېواد ته به ځم





## لر یو او که بره یو!

مونږ ددې په مینه کې هروختې تېر د سره یو
لر یو او که بره یو- لر یو او که بره یو

دا وطن مو ښکلی دی
ټولو کې ښاغلی دی
ښه هر چا منلی دی
ښه هر چا منلی دی
ښه مونږه راغلي تل د یو بل د نظره یو
لر یو او که بره یو- لر یو او که بره یو

ننګ په خپل هېواد لرو
مونږ هېواد ازاد لرو
وران او که اباد لرو
وران او که اباد لرو
ولې به نو مونږ ددې د حاله ناخبره یو
لر یو او که بره یو – لر یو او که بره یو

زړه زمونږ جذبه کوي
چــغه کړي ناره کوي
نيت کړي اراده کوي
نيت کړي اراده کوي
مونږه خبر شوي د دښمن د هر خطره يو
لـــر يو او که بره يو - لـــر يو او که بره يو

ګران افغانســــــتان زمونږ
زړه زمونـــږ او ځان زمونږ
ژوند ترېنه قربـــان زمونږ
ژوند ترېـــنه قربـان زمونږ
خيال کې يې هدفه د ماښام نه تر سحره يو
لـــر يـــــو او که بره يو - لر يو او که بره يو





## زه خپل وطن خوښووم

زه خپل وطن خوښووم
دا شين چـمن خوښووم
په خپلو سترګو کې په مينه غړووومه به
زه جوړوومه به يې

زمونږ وطن دی زمونږ کور دی
شان يې په ټوله نړۍ خور دی
زه به يې نه کړم په ژړا خو خندوومه به يې
زه جوړوومه به يې

مونږه يې مرستې ته تيــــــار يو
لګيا هروختې مونږ په کــــار يو
دا خړې دښتې په ګلونو بدلوومه به يې
زه جوړوومه به يې

دا خپل هېواد به مـو ودان کړو
خان او خګر به ترې قربــان کړو
نوم او نښان په ټول جهان اوچتوومه به یې
زه جوړوومه به یې

په مونږه ګران دی او ښایستــه دی
ښایسته او ښـــکلی یو په دوه دی
هدفه هر وخت خدمتونه زه کومه به یې
زه جوړوومه به یې





**دا د پښتنو وطن دی!**

لوی ننګیالي پکې اوسېږي د زمرو وطـــن دی
دا د پښتنو وطن دی

دښمــــن ته نه پرېږدي وطن، په دې جنګونه کوي
سوری سوری کړي خپل بدن، په دې جنګونه کوي
لـرې ښــایســـته ښـایسته څوانان د ننګیالو وطن دی
دا د پښتنو وطن دی

شي په ننګونو باندې مړه، ازاد ژونـــدون تېروي
ټیټوي هیـــچاته سر نه، ازاد ژونــــدون تېروي
ډېر وختینی ډېر پخوانی د شــــازلمو وطن دی
دا د پښتنو وطن دی

لري غيرت او شجاعت، گرځېږي هســـکه غـړی
لري يووالـــی او وحدت، گرځېږي هســـکه غړی
په خپل هېواد باندې نازېږي د شمـــلو وطن دی
دا د پښتنو وطن دی

نه وررسېږي خوراک څښاک، خو حوصله نه بايلي
روزي رسان دی الله پاک، خو حوصله نه بـــايلي
هدفه دا خو د لوی شان او تاريـــــخو وطـن دی
دا د پښتو وطن دی





**زه پښتونخوا غواړمه**

ماته پردی ځای پکار نه دی صرف دا غواړمه
زه پـښتونخوا غواړمه- زه پښتونخوا غــــواړمه

زما مــــردان او پېښــور ښکلي دي
هم صوابی، بونېر خيبر ښکلي دي
چې پښتانه په کې اوسېږي هغه خوا غواړمه
زه پښتونخوا غواړمه- زه پښتونخوا غــــواړمه

لوی لوی مېړونه پښــــتانه يادېږي
ټول ننگيالي درانـــه درانه يادېږي
چې رڼا کېږي پرې پښتون هغه رڼا غـــواړمه
زه پښتونخوا غواړمه- زه پښتونخوا غــــواړمه

پښتنه خــــاوره ورته نه پرېږدمه
دا زما ميـــــنه ولې زه پرېږدمه
د دښمنانو نه يې زه په دې دنيـــا غـــواړمه
زه پښتونخوا غواړمه- زه پښتونخوا غــــواړمه

پښتنو ورونو کړئ اوچت سرونه
ښه په میړانه او غیرت سرونه
ووایئ خپله پاکه خاوره په رښتیا غواړمه
زه پښتونخوا غواړمه- زه پښتونخوا غواړمه

دا خپله مینه خپل عزت ګڼمه
دا خپل وجود او محبت ګڼمه
اټک به خامخا ترې غواړم هم تیرا غواړمه
زه پښتونخوا غواړمه- زه پښتونخوا غواړمه

زه به نښان د پښتنو لوړوم
ددې زمرو او ننګیالو لوړوم
پښتون هدفه په نړۍ نن او سبا غواړمه
زه پښتونخوا غواړمه- زه پښتونخوا غواړمه





## ملي بیرغ

مونږه خپل ملي بیرغ ساتلی تل اوچت
دا د ټول ملت دی- دا د ټول ملت دی

دا د مسلمان بیرغ
دا د هر افغان بیرغ
مونږ ددې د لاندې تل ساتلی یو وحدت دی
دا د ټول ملت دی- دا د ټول ملت دی

دا بیرغ رپېږي به
هره خوا نالېږي به
مونږ ددې لپاره هر ساعت کړی خدمت دی
دا د ټول ملت دی- دا د ټول ملت دی

دا د آزادۍ بیرغ
دا د خپلواکۍ بیرغ
دا زمونږ مانا دا مو نښان د حریت دی
دا د ټول ملت دی- دا د ټول ملت دی

دا همداسې لوړ دی
دا د قدر وړ دی
خوښ ګوره هدفه څکه ستا په هر جهت دی
دا د ټول ملت دی- دا د ټول ملت دی





## خوږ ټاټوبی

مونږ ویستلی تل له تانه بهرنی دی
ستا ساتنې ته ولاړ هر افغانی دی
د تېر شویو کړو او وړو خنې خبر یو
مونږ اثار موندلی دلته پخوانی دی
مونږه ستا په غرو ردو کې راغېږ شوي
دا هېواد مو هوار نه دی غرنی دی
مونږه نوم به ددې هېچېرې هېر نکړو
دا زمونږه خوږ ټاټوبی پلرنی دی
ددې مرسته مو هیڅکله پرېښې نده
تل خدمت ته یې ولاړ هر وطنی دی
د افغان نامه مو څانته غوره کړې
څکه ستا هر اوسیدونکی میړنی دی

ستا ستاینه کړي هدف ښکلی هېواده
چې کتلی یې تاریخ ستا مخکنی دی

## لوی لوی عالمان به شو

تعلیم به مونږ حاصل کړو نومیالي ددې جهان به شو
لوی لوی عالمان به شو- لوی لوی عالمـــان به شو

په بیړه کړو کارونه
کوو مونږ کوښښونه
ساتنه به یې وکړو مونږ ددې خدمتــــــګاران به شو
لوی لوی عالمان به شو- لوی لوی عالمـــان به شو

تعلیم به مونږ کوونه
هېواد به مو ساتونه
بیا مونږه اوسېدونکي ددې ښکلي ګلــــستان به شو
لوی لوی عالمان به شو- لوی لوی عالمـــان به شو





غمونه به شي لرې
بیا وایو به سندرې
مونږ ټول په خوشالۍ د خپل وطن ځنې قربان به شو
لوی لوی عالمان به شو- لوی لوی عالمـــان به شو

زړګـــی مو خوشالېږي
وطن چې مو جوړېږي
هدفه په رښتیا چې د ښایسته ژوند خــــاوندان به شـــو
لوی لوی عالمان به شو- لوی لوی عالمـــان به شـــو

## ګرانه هېواده تا به زر ودانوو

ګرانه هېواده تا به زر ودانوو
مونږ بـــه دې ډېر خوشالوو

ته چې ټاټوبی د افغان یـــې
په مونږه ټولو باندې ګران یــې
ته زمونږ زړه زمونږه ځـان یې
ته زمونږ ژوند زمونږ ایمان یې
هره حصـــه دې د ګـلونو ډکوو

که دې کابل که کــندهار دی
که بدخشان که ننــګرهار دی
کندې کپرې که هـــوار دی
که تش ډاګونه کـــه ګلذار دی
کندې کپـرې به دې هم هواروو





په هېوادو به ورپه ســـر شې
ته به د هر څه نه خـــبر شې
ته به هېواده یو شین غـــر شې
ته تر قیامته به اخـــــتر شې
هره یوه سیمه دې وطنه خوښوو

په پرمختګ بــه زمــونږ تله شي
که مو د پوهې نوم په خوله شي
ټـول هېوادوال به سره مـله شي
لکه چې ونې د ځنــــګله شي
هدفه مونږ به کار ته ځان تیاروو

## ای افغانه

ای افغانه راوچت شه
نارې ووهه په زوره

د نړۍ مسلمانان به
زر خبر شي ستا له شوره
بندوبست په منډه وکړه
ماشومان دې دي بې کوره

ډېر بچي لادرک شي
د خپل پلار د خپله موره
څوک د موره جلا شوي
څوک د وروره څوک د خوره

تل کوي چې داسې سوچونه
ته هدف غریب ته گوره





## کابل جلال اباد او پېښور زما وطن

كابل جلال اباد او پېښور زما وطن
خارپړمه د ټولو لر او بر زما وطن دی
حجره زما وطن دی او گودر زما وطن دی
خارپړمه د ټولو لر او بر زما وطن دی

ټول دې خوشاله او اباد وي خفه کېږي دې نه
ټول دې خپلواکه او ازاد وي غلام کېږي دې نه
هر کلی زما خاوره او هر در زما وطن دی
خارپړمه د ټولو لر او بر زما وطن دی

لري اوږده سيندونه چمنونه لري
هم ځنگلونه هم باغونه او ښارونه لري
ښارونه بیابانونه سمه و غر زما وطن دی
خارپړمه د ټولو لر او بر زما وطن دی

**افغان بیخي د افغانیت د نومه نه تیـــــرېږي**
**هیڅکله دغو د وحدت د نومه نه تــــیرېږي**
**سحر زما وطن هم مازیگر زما وطــــــن دی**
**خارېږمه د ټولو لر او بر زما وطـــــــن دی**

**زه یې وران کلي په ښـارونو باندې نه بدولوم**
**زه یې ازغي په سرو گلـــونو باندې نه بدلوم**
**هدفه زما ژوند دی د زړه سر زما وطــن دی**
**خارېږمه د ټولو لر او بر زما وطـــــــن دی**





**ترانه**

**پکې ښایسته په خوشالی سره اوسېږم**
**ورنه زارېږم  په صفت یې نه مړېــــږم**

**که  پېښــــور که ننگرهار دی**
**که کنــدهار دی که مزار دی**
**زما زړگـــــی ورځنې زار دی**
**په پرمختگ زه ددې ټولو خوشـالېږم**
**ورنه زارېږم پـــــه صفت یې نه مړېږم**

**خومره ښایسته مې پښتونخوا ده**
**زما وجـــــــود دی زما سا ده**
**په خوله مــــې تل ورته دعا ده**
**همېشه زه به په پښتـــو باندې نازېږم**
**ورنه زارېـــږم  په صفت یې نه مړېږم**

پښتانه واړه ننــــــگيالي دي
د خپل وطـــن تکړه بچي دي
که ماشومـــان دي که زلمي دي
زه يې ستايمه زه په قدر يـې پوهېږم
ورنــــه زارېږم  په صفت يې نه مړېږم

الله دې جـــوړ لري جوړېږي
زما هـــــېواد به ابادېږي
هيڅکله نه دې خـــرابېږي
هدفه زه يې په سوچـــونو کې ډوبېږم
ورنــــه زارېږم  په صفت يې نه مړېږم





## زما وطن افغانستان دی

زما وجود دی زما ژوند دی زما خـــان دی
زما وطن افغانستان دی
ورپسې مرم د خپله خانه راته گـــران دی
زما وطن افغانستان دی

زما دې تل ورسره ميـــنه وي
دا دې زما د وجود ويـــنه وي
ماته اوچت او ښايسته په ټول جـــهان دی
ورپسې مرم د خپله خانه راته گـــران دی
زما وطن افغانستان دی

په خوشالی يې خوشـــالېږمه
او په خفګان يې خفه کـــېږمه
زه ترې زارېږم زما روح زما ايـــمان دی
ورپسې مرم د خپله خانه راته گـــران دی
زما وطن افغانستان دی

ورونو اباد به دا وطن کــــړمه
ورنه به جوړ ښکلی چمن کړمه
ورپسې ژاړم لوند په اوښکو مې ګریـوان دی
ورپسې مرم د خپله خانه راته ګـــــران دی
زما وطن افغانستان دی

زما وجود دی زما ســــاه ده
زما ژوندون زما دنـــــیا ده
وي دې ژوندی هدفه ژوند مې ترې قربان دی
ورپسې مرم د خپله خانه راته ګـــــران دی
زما وطن افغانستان دی





## که پېښور دی، که کونړ دی، که کابل دی

که پېښور دی که کونړ دی که کــــابل دی
هر يو ښايسته د هر يو خایه يو په ســـل دی

ماتـــه د خــان ځنې خواږه دي
دا خو قطــــرې زما د زړه دي
ښکې ښکارېږي هر يو ښکلی لکه ګل دی
هر يو ښايسته د هر يو خايه يو په سل دی

په هر يو خــــای باندې نازېږم
چــې ورته ځـــم نو خوشالېږم
ورباندې وياړمه ستايلی مې هر ځــل دی
هر يو ښايسته د هر يو خايه يو په سل دی

ورونـــــو د لر دی که د بر دی
هر یو پښتون مې د زړه سر دی
هر یو زمری دی ننګیالی دی او اتـــل دی
هر یو ښایسته د هر یو ځایه یو په ســـل دی

تل دې خوشـــــــاله او اباد وي
تل دې خپـــــلواکه او ازاد وي
هدفه ځکه صفت کــــړی یې تا تل دی
هر یو ښایسته د هر یو ځایه یو په سل دی





## د خپل هېواد په لوري خم

د خپل هېواد په لوري خمه چې هر ښار ووینم
زه ننګرهار ووینم، ښایسته مــــــــزار ووینـــــم

شنه شنه په کې دي چمنونه
پـــه کې دي رنګارنګ ګلونه
تازه هوا په کې لګېږي چې بـــــــهار ووینم
زه ننګرهار ووینم، ښایسته مــــــــزار ووینم

دا ښکلې ښکلې معلومېږي
ټولې په غرونو کې تيرېږي
چې پرې ورځمه خامخا هره یـــوه لار ووینم
زه ننګرهار ووینم، ښایسته مــــــــزار ووینـــم

ډېر ځنګلونه په کې ښکاري
ورپکې ونې دي بې ساري
په ځنګلونو کې نښتر او هم چنار وګورم
زه ننګرهار ووينم، ښايسته مزار ووينم

اوبه په غرونو کې بهېږي
چې رابهېږي نو شرېږي
ښکته راځي چې په تيزۍ هغه ابشار ووينم
زه ننګرهار ووينم، ښايسته مزار ووينم

که دي ښارونه او که کلي
هدفه ماته دي ټول ښکلي
چې ورله ښکلي ماښامونه او سهار ووينم
زه ننګرهار ووينم، ښايسته مزار ووينم





**ودان دې هر يو کلی کور شه**

درنه اوچت د چا پيغور شه
ودان دې هر يو کلی کور شه
ته دې تل اوسې خوشاله
ته شې هر وختې سوکاله
خدای دې ساته له بد حاله
هېواده مړ درځنې اور شه

ته زمونږ د سترګو تور يې
ته زمونږ د زړه ټکور يې
زمونږ پلار يې زمونږ مور يې
دښمنان واړه دې نسکور شه

ته چې ژاړې مونږ ژړيږو
ته چې خاندې مونږ خنديږو
ستا په درد باندې درديږو
رڼا رڼا دې هر يو لور شه

ستا عـــزت زمونږ عزت دی
تا کـــې نغښتی صداقت دی
مونږ په تـــا کړی غیرت دی
ځادر د مینـــې په تا خور شه

چې اوچت دې نوم نښان شي
چې حـــیران درته جهان شي
چې پـــوره دې هر ارمـان شي
د زړه زخمونه دې تــــکور شه

چې ته خـــان زرې زرې کړې
چې په ویـښه تیرې شپې کړې
چــــې ته جـوړې ترانې کړې
هدفه ډېر دې د زړه زور شـه





سره یو بل ته لاسونه ورکوو

یو کیږو سره یو بل ته لاسونه ورکوو
وطنه ستا په مینه مونږ سـرونه ورکوو

دا ژمنه کـــړو له ځان ســـره
سیـــالي کړو له جهان ســـره
یو مخ له امتـــــحان سره
نړۍ کې به هررنګ امتحانونه ورکوو

یو کـــــیږو او پوهیږو نور
مونږ خپلو کې جوړیږو نور
تر څو به وژل کــــیږو نور
هر تن مو د سولې پیغامـــــونه ورکوو

چې دښتـې مو باغونه شي
ازغـي چې مو گلونه شي
چې کـاڼي مو لعلونه شي
جنگونه ختموو يو بل ته زړونه ورکوو

دا خـاوره دې ودانه شي
پرې خداى دې مهربانه شي
ښـايسته دې له جهانه شي
ازغي ترې ټولوو ورته گلـونه ورکوو

نور نيسـو د ورانـى مخه
د جنـگ او بربادى مخه
د هر رنـگ تباهى مخـه
هر ټپ ته يې هدفه ټکـورونه ورکوو





## زما هېواده

درنه ځان مې شه قربان زما هېواده
شه اوچت دې نوم نښان زما هېواده

ته ژړيدلـى يې ډېر، تـه کړيدلى يې ډېر
په تا خفـگان تير شوى، ته زوريدلى يې ډېر
په تا رامه شه خفـگان زما هېواده

ستا له سيندونو نه زار، ستا له دې غرونو زار
سـتا له درو نه قربان، ستا له دښتونو نه زار
زما زړه او زما ځان زمـا هېواده

ستا آبادي غواړو مونږ، ستا ترقي غواړو مونږ
ای زما خوږ هېواده، ستا سوکالي غواړو مونږ
خدای په تا شه مهربان زما هېواده

خـــه بنه شـــعرونه وایو، د زړه حالونه وایو
د جنـــگ نه کرکه کوو، یو بل ته ورونه وایو
ستا بچی دی هر افـــغان زما هېواده

دا خانخـــاني ورکه کړئ، دا بربادي ورکه کړئ
دا دی د پوهې مـهال، نور ناپوهي ورکه کړئ
د هدف د زړه درمان زما هېواده

دا کتاب( دا د هر افغان بیرغ ) د آریان پښتو
کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو ورونو او خویندو ته
دي ډالۍ وي ...!

او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد
ساتئ ...!



آریان پښتو کتابتون
20 22
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

راځئ ملګرو زموږ په دې شاته پاته ټولنه کې،
کتاب لوستل عام کړو تر څو مو آینده نسل آزاد،
ارام او سوکاله ژوند ولري .!

په درنښت / آریان پښتو کتابتون